سیدهمایون اولسی ۲۰۱۴/۰۳/۰۳

ناهید صاعد

د پخوانی پاچا د دیموکراسی په دوره کې، پوهنتون او ښوونځیو هره ورځ مظاهری وی او حکومت د مظاهراتو تحمل کاؤ اوګوښی ببرک کارمل ورته دیکتاتوری او اختناق رژیم ویل.

ناهید صاعد

د ببرک کارمل په دوره کې د رابعی بلخی لیسی د کب ۳. ۱۳۵۸ کال مظاهره و کړه.

د لیسی یوه زده کوونکی انجلی چی ناهید نومیده د روسانو اوحکومت د خلاف شعار په حال کې ورته اخطار ورکړ شو چې نور شعار ورنکړي او کنه ډزې به ورباندی وشی.

خو ناهید په ډیرشجاعت او میړانی ادامه ورکړه.

دزې وشوی، د اردو او سیاست کتاب په قول: اول **ناهید**، دوهمه **آمنه**، دریمه **سلطانه** او څلورمه **سلما** او ورپسې نورې **دیریش انجونې** ووژل شوی.

هغوی په خپلو مقدسو وینو د هماغې ورځې پاڅون ته عظمته او ستروالی ورکړ.
خلکو په هماغه ورځ د ببرک دې نامردانه عمل ته لعنتونه ویل، خو بیا هم ببرک په بیشرمی خپل رژیم ته دیموکراتیک ویل.

ببرک د روسانو د لاس ایښود شوی نماینده او هاغه عوام فریب چې د دیموکراسی ناری به یې وهلې، تأریخی بد نام شو.

پای کی روسان، له افغانستان څخه سرکوزی او برباد خپلو کوروته روان شو.
ناهید، **آمنه**، **سلطانه** او **سلما** مړې شوی خو د افغانستان تأریخ کی تلپاتی ژوندی پاتی شوی چی اوس خلک د دوی میړانه او د ببرک او روسانو نامردی یادوی.

***

ناهید خپل معلومات د رابعی په برخه کې تکمیل او دهغې خاصیتونه یې خپل دماغ کې را ټول کړي وو که رابعی د بکتاش په مینه کې ځان قربان کړ

ناهید د ګران هیواد افغانستان په عشق کې ځان جار کړ. او د تأریخ په زرینو پاڼو کی ورغله.
پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ